مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حنیف حیران

۲۰۲۴/۰۴/۰۶

# لېونتوب

## (لنډه کیسه)

د ګلو جامو ازاد لستوڼی یې پورته کش کړ، شرنګ شو بنګړي یې ښکته تر مړوند راواوښتل، نږدې وو چې په لړ فشار یې تر لاس ووځي. ورته متوجه شوه، بېرته یې د څنګلې خوا ته بوتلل، تر مړوند یې دویم لاس راتاو کړ، د شهادت او بټه ګوتې یې سره ورغلې .

موبایل یې راواخیست، سندره یې چالان کړه:

اوس دې یادونه افسانې ښکاري

دا څه دستور د زماني ښکاري.. اوس دې یادونه .....

مور یې کوټې ته راغله، تر څنګ یې کېناسته، د سندرې غږ کم شو؛ خو غلی نه شو.

- لورې! دې موبایل او کتابونو خو ته لېونۍ کړې، دا رنګ دې وګوره، جړ وښنته دې وګوره. تا خو مخکې په ځان ډېر پام کاوه، په ځان به مینه وې. اوس څه خبره ده. که مریضه یې چې ډاکټر ته دې بوځم .

شیبه غلې وه، بیا یې وویل:

- نه مورې روغه یم، دا څو ورځې مې لکه فشار چې ټیټ وي، لږه ګنګسه یم، زه او عاطفه دواړه ډاکټرې ته بیا ورځو.

- یو خو ته له عاطفي وانه وښتې، زه درسره ځم کنه، هغه مې نوره له پامه بده شوه. بیخې یې له کاره اېستلې یې، دې نجلۍ کې تا څه لیدلي دي؟

د نجلۍ زېړ غومبوري تک سره واوښتل، په مور یې خوله ورخلاصه کړه، هر څه یې چې په خوله راتلل ور وې ویل. پروني پر اوږو له کوټې ووته. مور یې هېښ وروکتل.

موبایل یې راواخیست، شمېره مصروفه شوه، بیا یې زنګ وواهه، بیا او بیا شمېره مصروفه راتله. موبایل یې لرې وغورځاوه، سترګې یې راډکې شوې، سلګیو پسې واخیسته. پرمخې یې موبایل ته لاس وروغځاوه، د عکسونو ګیلرې یې پرانیسته، یو یو عکس یې رانږدې او ښکل کړ. شیبه وروسته یې سترګې سره ورغلې، مور یې غلې غلې ورغله، نرۍ کمپله یې پر ټټر ورهواره کړه.

مازدیګر یې تلوېزیون چلان کړ، یو اروایوه پر رواني ناروغیو، سټرېس او ډیپرېشن خبرې کولې. د تلوېزیون له ښیښې یې شمېره واخیسته، زنګ یې وواهه، له هغې خوا غږ راغی چې صبر وکړئ مورږ مو له خپروني سره روخ کوو. په عذر یې وویل، خیر دی وروره د ډاکټر شخصي شمېره راکړئ، زه ورسره خپلې ستونزې شریکوم.

سهار چې په ځای کې راکېناسته، له بې خوبۍ یې په سترګو کې شګې رغړېدلې. بیا یې عاطفي ته زنګونه ووهل، شمېره بنده راتله، دا څه موده یې له خپلې کوټې نه په وتو راځورند هېنداري ته مخ نه وراوښت. تشناب ته لاړه، پر مخ او لاس یې اوبه تېرې کړې، حجاب یې واغوست او له کوره ووته. شیبه وروسته دروازې ته ودرېده. دروازه یې ټک ټک کړه، ورور یې راووت، ویل یې هغه کورس ته تللې ده. شکي وه، ویل یې کورس یې کله پیل کړی دی؟

هلک ګډوډ شو:

- امم خبر نه یم.

پاس دویم منزل کې کړکۍ خلاصه شوه، بېرته ژر بنده شوه. نجلۍ په ماتو قدمونو روانه شوه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګوښه ځای یې د تلویزیون شمېرې ته زنګونه ووهل؛ خو شبکې به ویل چې ستاسو ډایل کړې شمېره په سستم کې نه شته. زړه کې یې شګوفه راوګرځېده. مور ته یې زنګ وکړ چې هلته لاړه. له شګوفې یې هم اوښتی رنګ، تیت حواس او بد حال پټ نه شو کړای، په حیرانۍ یې وویل:
ـ دا ولې، دا څه درشوي دي؟
نجلۍ تکیه وکړه، سوی آه یې له خولې واېست، مړاوې او رنځورې سترګې یې ورو ورپورته کړې، د ګڼو اوږدو بڼوکونجو کې یې اوښکې وځلېدې. وړاندې تر دې چې په زېړو غومبورو یې راورغړې، د نریو اوږدو ګوتو په شا یې پاکې کړې.
ـ ولې څه خبره ده، چې ما ته نه وایې نو چا ته یې وایې؟
ـ نه څه خبره نشته، نن مې هسې زړه تنګ و، ما ویل تا به وګورم، ګوندې لږ ارامه شم، هسې ځوریږم .
ـ ولې څه ناروغې، څه مشکل، څه خبره ده؟
ـ هسې
شګوفه لاړه، چې چای راوړي؛ د نجلۍ وړو وړو سلګیو د کوټې خاموشي ماتوله.
شګوفې وویل: داسې څه دي چې ته یې ما نه پټوې؟
نجلۍ د یخې پیالې په غوړپ ستونی لوند کړ.
ـ د خدای لپاره یوه لاره راته وښایه، قسم دی نوره لېونۍکېږم، هیڅ حوصله نه ده راپاتې، نوره د مور له خبرو او خپلې زېړې ښېرې کرکه راځي.
ـ خو ته ووایه څه خبره ده؟
نجلۍ بیا سلګیو واخیسته، شګوفې غېږې ته ورړنګه کړه، په جړو تورو وېښتو کې یې ورو ورو ګوتې ورتېرې کړې، شېبه وروسته پورته شوه دروازه یې بنده کړه.
په سپېرو شونډو یې ترخه موسکا وکړه:
ـ که درته ووایم، ممکن ته مې هم ورټې؛ ښایي کرکه دې رانه وشي؛ مګر پرته له خدای او تا هیڅوک نه دي راپاتې چې ډاډ راکړي او له دې جنجاله د خلاصون لاره چاره راته وښیيي.
پورته شوه تر کړکۍ یې بېرون پر سړک روانو موټرو ته وکتل، بېرته یې ورو ورو پرده کش کړه، په ژړغوني غږ یې وویل:
ـ درته وایم؛ خو خدای ته وګوره، پرده مې وساته، که تا ته هم ونه وایم، زړه به مې وچوي، نور هیڅوک نه لرم.
زمکه ځای نه راکوي، بل رقم شوې یم، د جهان نارینه مې بد ایسي، زه فکر کوم چې هیڅ ښکلی نارینه نشته. زړه مې هیڅ مېلان نه ورته کوي. پر هغو نجونو لانت وایم چې څوک وایي هغه پلانی داسې ښکلی ځوان دی او پلانی هغسې.
مخامخ نجلۍ یې په سترګو کې درد ته ځیره شوه، څنګ ته تکیه یې ځان ته نږدې کړه، سر یې په حیرت وښوراوه.
نجلۍ وویل:
ـ ښوونځي کې به مو هم دا حال و، ځان یې ګیر ته نه راکاوه، ممکن زما لېونتوب به یې لیده. چې تفریح به شوه، په یوه پلمه به صنف کې پاتې شوو. له ډېرې مینې به مې لکه لېونۍ خولې پرې ولګولې، چغې به یې ټول ښوونځي واورېدې. لا د نجونو پر مخ ښوونځي نه وو بند شوي، چې اوازه مې واورېده، زړه مې درزېده، داسې نه چې بیا به یې د بېلتون تحمل نه لرم. هماغه راوشول. ښوونځي یې وتړل. څه موده یې سر په سر کور ته د درس په پلمه ورغلم. نور نو هغوی که هر څومره شناخته وو؛ خو ډېر ورتګ مې په هغوی هم غمېده.
حیرانۍ اخیستې نجلۍ یې خبرې ورپرې کړې:
ـ دا ځوانیمرګ څوک دی، چې تر اوسه دې ما ته نه دی ښودلی؟ ته خو داسې په اسانۍ چا ته نه ورماتېدې...
ـ صبر درته وایم، بله ورځ یې راته وویل چې که د دې لېونتوب لپاره کور ته راځې، نو هیڅ رانشې. ما ورته کړل چې خیر دی یوه ورځ ته موږ کره راشه، راتلونکي ژوند او درسونو ته به پلان ونیسو. فکر نه کوم چې ښوونځي دې ژر پرانیزي. لنډه دا چې بیخي یې ځواب کړم، چې نور نه زنګ ورته ووهم، نه ټولګیوالتوب ورسره وپالم او نه هم نورې اړیکې. خو نه کېده، هېرولو یې هیڅ امکان نه درلود. چې ګوښې به شوم، پر ځان به مې لانت کړل، چې د خدای لپاره دا څه دي؟ چا به تاویذونه راباندې کړي وي، کوډې به وي؛ خو په دې شیانو به مې عقیده هم نه راتله. نور نو درسونه په درسونو کې پاتې شول او ژوند په ژوند کې.
پوهېږې؟ یوه زېرپېراني یې راسره ده، ټوله ورځ یې بویوم، ځانګړی بوی یې ارام رابښي. یوه کتابچه کې یې ځینې یاداښتونه او انتخابي شعرونه راته لیکلي دي، چې لاړه شم او راشم کتابچه راواخلم.
شګوفه پرې وربرګه شوه، تېز یې وویل:
ـ ولې مې زاره چوې، دا کوم د سپي زوی دی، په ځای د دې چې هغه ځوانیمرګ تا پسې وګرځي، ستا ښکلا ته سر ټیټ کړي، ته یې لېونتوب ته رسولې یې. اخر ته له چا کمه یې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نجلۍ یې سر په اوږه ورکېښود، سلګیو پسې واخیسته، خبرې یې په ستوني کې غوټه شوې. یوه شېبه دواړه خاموشه شوې. بېرته د نجلۍ شونډې وخوځېدې.
ـ په ټول ژوند کې مې داسې لېونۍ مینه په چا نه ده راغلې او هغه هم داسې مینه؛ لکه یو څوک چې له هواګانو او خوشبوګانو پنډونه تړي؛ خو هغه نه تړل کیږي. کټ مټ زما لېونتوب داسې دی، داسې چا باندې مې زړه ناست دی چې درته ویلی یې نه شم.
د شګوفې په سترګو کې یې قهر او حیراني په څپو ولیدل، وړاندې تر دې چې هغه نور څه ورته ووایي، نجلۍ وویل:
ـ صبر صبر درته وایم؛ خو ګوره ومې نه رټې. عاطفه یادوم، زما ټولګیواله، د جهان نارینه ترې جار شه، کاش چې یو څه مې کړای شوای. خدای ته وګوره ما مه رټه، مینه رښتیا هم حدونه نه پېژني. زه په عاطفې لېونۍ مېینه یم، ورپسې مړه مړه یم، تبا برباد یم، له هغې پرته...
د نجلۍ سلګۍ نورې هم پسې تېزې شوې، شګوفه لکه بت ځای پر ځای مېخ کېناسته، سترګې یې بې واره راډکې شوې او نجلۍ یې خپلې غېږې ته ورړنګه کړه.

پای





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ